## دومین پل هوایی عابر پیاده به هزینه ۱٦ میلیون افغانی توسط شاروالی هرات تکیمل و به بهره‌برداری رسید



هرات ۱

کار ساخت دومین پل هوایی عابر پیاده در ابتدای جاده بهزاد، مربوط نواحی دوم و پنجم شهر هرات به هزینه ۱٦ میلیون افغانی توسط شاروالی هرات به همکاری مالی شرکت تجارتی سلام بلال تکمیل و با حضور مسؤولین و شهروندان به بهره برداری رسید.

الحاج ملا نعمت‌الله حسن، شاروال هرات در مراسم بهره‌برداری این پروژه اظهار داشت که ساخت این پل باعث تسهیل رفت‌وآمد شهروندان، کاهش ازدحام ترافیکی و ارتقای زیبایی شهر هرات شده است. وی ضمن قدردانی از شرکت سازنده و مشارکت ارزشمند تجار و صنعت‌کاران، از آنان خواست تا همکاری خود را در توسعه و زیباسازی شهر ادامه دهند.

از سوی دیگر، شیخ اسلام جار، والی هرات ضمن ابراز خرسندی از ساخت این پروژه عام‌المنفعه، گفت که هرات هر روز یک قدم بیشتر به سوی آبادی، ترقی و پیشرفت برمی دارد. وی افزود که ولایت هرات در چند سال اخیر با فضای امنیت، صلح و آرامش و عدالت، پیشرفت‌های چشم‌گیری در بخش‌های مختلف داشته است.

از سویی، مسئولان شرکت تجارتی سلام بلال می‌گویند که این پل به هزینه ۱٦ میلیون افغانی با هدف فراهم‌کردن سهولت، مصئونیت و نظم بهتر برای عبور و مرور عابران ساخته شده است.

شماری از شهروندان هرات نیز با استقبال از ساخت این پل، تأکید کردند که این پروژه نقش مهم در تأمین امنیت عابران پیاده و کاهش حوادث ترافیکی دارد و از شاروالی هرات و سکتور خصوصی خواستند تا پروژه‌های مشابه را در سایر نقاط پر ازدحام شهر نیز اجرا نمایند.

د سپین‌بولدک ښاروال الحاج مولوي لطف الله لطیفي د فواید عامې او تخنیکي ټیم سره یو ځای د پراختیایي پروژو له روانو چارو څخه نظارت وکړ. د سړک، پلچکونو او ویالو کارونه په چټکۍ روان دي. قراردادي شرکت د کار وخت ۹ ساعتونو ته لوړ کړی ترڅو پروژه پر وخت بشپړه شي. له ښاریانو د همکارۍ غوښتنه شوې ده.



کندهار ۲

د کندهار ښاروالۍ د تنظیف عمومي مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د کثافاتو راټولولو او انتقال چارې روانې دي. ښاروالۍ له ښاریانو څخه غوښتنه کوي چې د ښار د صفاوالي په ساتلو کې همکاري وکړي.



کندهار ۳

## اعلان داوطلبی شاروالی غزنی

ریاست شاروالی در نظر دارد که پروژه اعمار، ترمیمات اساسی سرک‌ها و ساختمان انجنیری آن (سرک شفاخانه ملکی) را از بودجه انکشافی خویش با استفاده از داوطلبی باز داخلی قرارداد نماید شرکت های که دارای جواز معتبر ساختمانی و سرک سازی باشند می‌توانند درخواستی های خویش را به مدیریت عمومی تدارکات ریاست شاروالی سپرده شرطنامه و مشخصات داوطلبی را از تاریخ نشراعلان الی تاریخ ۱۴۰۵/۰۲/۱۹ از مدیریت عمومی تدارکات ریاست شاروالی و تدارکات مقام ولایت غزنی بدست آورند.

ضرب الاجل برای تسلیمی آفرها روز (شنبه) مورخ ۱۴۰۵/۰۲/۱۹ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر تضمین افر نقد اخذ می‌گردد و جلسه آفرگشائی درهمین روز ساعت (۲) بجه بعد از ظهر در مدیریت تدارکات مقام ولایت غزنی دایر می‌گردد.

غزنی ولایت

د کندهار ولایت د مستهلکینو کمېسیون او د سپین‌بولدک ولسوالۍ د نرخونو کمیټې د تیلو پلورونکو له اتحادیو سره د سپین بولدک ښاروالۍ په مقام کې ګډه غونډه ترسره کړه. په غونډه کې د تیلو د کیفیت او کمیت ترڅنګ د نرخپاڼې ترتیب او مهمې سپارښتنې تیید شوې. یادې پرېکړې به په ټول سپین بولدک کې عملي کېږي او ټولو تیل پلورونکو ته به خبرتیاوې ووېشل شي.

کندهار ۴

مدیریت عمومی تنظیف شاروالی تالقان با هماهنگی نواحی مربوطه، ساحات حوزه سوم امنیتی، سرک دوم تیل‌فروشی سابقه ناحیه سوم، گذر ابوذر غفاری، زرگری بالا و سرک عمومی تخار-بدخشان در ناحیه ششم را از وجود کثافات پاک کاری نمودند و زباله‌ها را به بیرون از شهر انتقال داده اند. همچنان پلچک گذر سلطان‌بای مربوط ناحیه چهارم دوباره بازگشایی و جریان آب به حالت عادی تنظیم گردید.



تخار ۵

د مهترلام ښاروالۍ له لوري د منظور شوي پلان پر بنسټ د خطاندازۍ چارې پیل شوې، چې د ښاروال الحاج مولوي نظر محمد عتیق په ځانګړې لارښوونه د تخنیکي او مسلکي ټیم له خوا پر مخ وړل کېږي. دا لړۍ د پلان مدیریت له خوا د څېړو په اصلاحي سیمه کې عملي شوه او ټاکل شوې ده چې وروسته به د هرمل، R۱۱ او د حلقوي سړک د پلان پاتې برخې هم تر پوښښ لاندې ونیول شي.
مسؤولین وایي، د دې پروژو پلي کېدل به نه یوازې د ښاریانو د سرپنا ستونزې په کمولو کې مرسته وکړي، بلکې ګڼ شمېر بې‌کاره ځوانانو ته به د کار زمینه هم برابره کړي.



کاپیسا ۶

د مزارشریف ښاروالۍ د مارکېټونو د تنظیم ټیم په ښار کې د ځارنې په ترڅ کې ۲۱ کیلوګرامه غیر صحي غوښه د ښار له قصابیو څخه راټوله کړې ده. د ښاروالۍ مسؤولین وایي چې دغه ځارنې به دوام ولري.



بلخ ۷

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## کمپاین گسترده حشر عمومی به‌هدف پاکی و صفایی شهر مزارشریف راه‌اندازی شد



بلخ ۸

به اساس هدایت و حضور حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف، کمپاین حشر عمومی به هدف تأمین پاکی و صفایی محیط شهری در نواحی دوازده‌گانه شهر توسط آمریت تنظیف، آمریت‌های نواحی دوازده‌گانه با همکاری وکلای گذر و باشندگان محل، آغاز گردید.

حافظ عبدالرحمن همت شاروال مزارشریف گفت: که به‌منظور جلوگیری از اذیت و آزار شهروندان، این کمپاین از ساعات شب آغاز گردید و در جریان آن، سرک‌ها، جاده‌ها و پیاده‌روها به‌گونه منظم جاروب و از وجود خس، خاشاک و زباله‌ها پاک‌سازی گردید.

به گفته آقای همت این کمپاین در پی سرازیر شدن سیلاب‌های اخیر در شهر مزارشریف راه‌اندازی شده است؛ سیلاب‌هایی که در جریان آن، برخی ساحات شهری دچار آلودگی و تجمع کثافات گردیده بود و نیاز به پاک‌سازی فوری احساس می‌شد.

هدف از راه‌اندازی این کمپاین ترویج فرهنگ شهرنشینی، حفظ محیط زیست و فراهم‌سازی یک فضای پاک و صحی برای شهروندان عنوان شده است. مسئوولان از تمام شهروندان خواسته‌اند تا با تیم‌های تنظیف شهری همکاری نموده و در حفظ نظافت شهر سهم فعال بگیرند.

د نورستان پارون ښار کې د نرخونو د کنټرول په موخه نوي نرخپاڼه جوړه او هټۍ‌والو ته ووېشل شوه. دا اقدام د نورستان والي الحاج قاري زین العابدین عابد په لارښوونه د احتکار مخنیوي او د بیو کنټرول کمېسیون له لوري ترسره شو.
مسؤولین وايي، د نرخپاڼې هدف د بازارونو تنظیم، د بیو د بې‌ځایه لوړوالي مخنیوی او خلکو ته اسانتیا برابرول دي. بلخوا، اوسېدونکو د دې گام هرکلی کړی او د بازارونو د لا پیاوړي څارنې غوښتنه یې کړې.




نورستان ۹

د ترينکوټ ښاروالۍ اړوند دوه تفریحي پارکونه، د سولې پارک چې د ښار په دریمه ناحیه کې موقعیت لري او د غازي امان الله خان پارک چې د ښار په لومړۍ ناحیه کې دی، د ښاروالۍ د پوره ځار او پاملرنې لاندې د شنو ساحو، ښکلي چمنونو او زړه راښکونکو منظرو له امله د خلکو پام خان ته را اړولی دی.



روزگان ۱۰

د هلمند ولایت د گرمسیر ښاروالۍ د خپلو عوایدو پر مټ د هزارجفت بازار کې د ۷,۸۲۷,۷۶۰ افغانیو په لگښت د ۸۰۰۰ مترو په اوږدوالي د سړک د قیر کولو پروژه بشپړه او د گټې اخیستنې لپاره وسپارل شوه. هېره دې نه وي چې د یاد سړک په جوړولو سره د هېوادوالو گڼې ستونزې حل شوې دي.



هلمند ۱۱

د جلال‌اباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا امریت له لوري د تنظیفاتي خدمتونو په لړ کې د دوهمې ناحيې اړوند بیلابیلو ساحو څخه د کثافاتو د انتقال چارې ترسره کړې.
د تنظیف کارکوونکي له نهه گونو ناحیو څخه هره ورځ ۶۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسبو ځایونو ته یې انتقالوي.



ننگرهار ۱۲

به‌منظور حفظ و تقویت فضای سبز شهری و رشد بهتر نهال‌ها و گل‌های زینتی، شاروالی محمودراقی نهال‌ها و گل‌های غرس‌شده را به‌گونه منظم آبیاری کرد تا از خشک‌شدن آن‌ها جلوگیری شده و زمینه رشد فراهم گردد.




کاپیسا ۱۳

هیئت مختلط متشکل از نمایندگان مقام ولسوالی انجیل و شاروالی انجیل، از ساحات ناحیه سوم ولسوالی انجیل نظارت به عمل آوردند و از نانوایی ها قصابی ها و دکان های خوراکه باب بازدید کردند که مقدار قابل توجهی اجناس تاریخ‌گذشته جمع‌آوری گردید.



هرات ۱۴

کارکنان تنظیف و سرسبزی، نظم و انسجام شهری و جلوگیری از تخلفات شهری از اعمار چندین بلندمنزل بدون مجوز در ناحیهٔ چهارم جلوگیری، کار اعمار ساختمانی در گذر تاتارخانه واقع در ناحیهٔ سوم را توقف دادند و همچنان به گل‌فروشان امتداد چهارراهی میسره جهت انتقال به محل مناسب و رفع موانع از جوار پل کهنه هدایت دادند.



فاریاب ۱۵

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# رغونه اونیزه

## د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

### ریاست شاروالی فیض‌آباد ۲۰۰ کراچی معیاری را با طرح و دیزاین مشخص در ناحیه دوم شهر جابه‌جا کرد


بدخشان ۱۶

در ادامه برنامه‌های منظم شهری به‌منظور بهبود نظم، زیبایی و مدیریت بهتر فعالیت‌های دست‌فروشان، بیشتر از ۲۰۰ کراچی معیاری با طرح و دیزاین مشخص توسط ریاست شاروالی فیض آباد در ناحیه دوم شهر جابه‌جا گردید.

پس از تکمیل روند جابه‌جایی که طی چند روز و تحت نظارت کمیته تنظیم شهری و منع احتکار به رهبری مولوی حبیب الرحمن منصور، صورت گرفت؛ دست‌فروشان به‌گونه رسمی فعالیت‌های خویش را در مکان‌های تعیین‌شده آغاز نمودند.

ریاست شاروالی فیض‌آباد با تأکید بر تداوم چنین برنامه‌ها، متعهد است تا در راستای نظم شهری، حمایت از کسبه‌کاران و ارتقای چهره شهر، اقدامات مؤثر و دوامدار را روی دست گیرد.

د فراه ښاروالۍ د ښاري انضباط مدیریت له لوري د دوهمې ناحیې پر عمومي سړک هغه د کولر جالکۍ لرې شوې چې د خلکو تګ راتګ یې له ستونزو سره مخ کړی و.

ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنه کړې چې عامه لارې یوازې د تګ راتګ لپاره وکاروي او له سړکونو د سوداګریزو توکو ایښودلو ډډه وکړي، څو د ښار نظم او اسانتیاوې خوندي پاتې شي.

فراه ۱۷

کارکنان تنظیف ناحیه پنجم شاروالی پلخمری ده ها متر مکعب کثافات و زباله های پلاستیک را جمع‌آوری و به بیرون از شهر انتقال دادند و رهبری شاروالی پلخمری از تمام شهروندان تقاضا می‌نماید تا غرض ایجاد فضای سبز و پاکیزگی، فرهنګ شهر نشینی را رعایت کنند.


بغلان ۱۸

کندهار ښاروالۍ خبرتیا ورکوي چې په نږدې راتلونکي کې به د ښار ټول غصب شوي او بند پاتابونه بېرته تخلیه او تنظیم کړي. له ښاریانو غوښتنه شوې چې هغه کورونه، دوکانونه او تاسیسات چې د پاتابونو پر مسیر جوړ شوي، ژر تر ژره دې په خپله خوښه لرې کړي.
مسؤولین وایي، دا اقدام د ښار د منظم، پراخ او خوندي چاپېریال لپاره ترسره کېږي او که ټاکلي وخت کې سیمې تخلیه نه شي، قانوني اقدامات به وشي.


کندهار ۱۹

لښکرګاه ښاروالۍ د ښار په ۳، ۴، ۷، ۸ او ۱۲ ناحیو کې د خپلسرو ودانیو او تاسیساتو د جوړولو مخه نیولې ده. دا اقدام د ښاروال الحاج حافظ صدیق په لارښوونه د مارکیټونو د تنظیم مدیریت له لوري ترسره شوی دی.
د تخنیک او سکتور امریت امر وایي، په بېلابېلو سیمو کې هغه ودانیز کارونه درول شوي چې له قانوني جواز پرته پیل شوي وو، او اړوندو کسانو ته د رسمي اسنادو د ترلاسه کولو سپارښتنه شوې. ښاروالۍ ټینګار کوي چې د خپلسریو پر وړاندې به دا ډول څارنه او کمپاین دوام ولري.


هلمند ۲۰

کارمندان تنظیف شاروالی نهرین به‌گونه منظم به پاک کاری سرک‌ها، جمع‌آوری زباله‌ها و تنظیف جوی‌ها پرداخته‌اند. همچنان جهت بهبود وضعیت محیطی، نظارت دوامدار و آگاهی‌دهی به شهروندان نیز صورت می‌گیرد.


بغلان ۲۱

د مهترلام ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امریت له لوري د ډاکټر عبدالله لغماني لیسې د مکتب کمېټې غړو ته د فعالیتونو د پیاوړتیا لپاره یو شمېر وسایل وسپارل شول. په ورکړل شویو وسایلو کې لاسي کراچۍ، بیلچې، ښاخۍ، ماسکونه، تنظیفي واسکټونه او دستکشې شامل وو. د ښاري حکومتولۍ امر وایي، دا ګام د زده کوونکو د ذهنیت لوړونې او د ښوونځي او ښار د پاک چاپېریال د ساتنې لپاره اخیستل شوی، او له زده کوونکو یې د فعالې ونډې غوښتنه کړې.


لغمان ۲۲

د جلال‌اباد ښاروالۍ له لوري د څلورمې ناحیې په شیشم باغ سیمه کې د ۱۳ میلیونو افغانیو په ارزښت د دوهمې سیخدارې ویالې کارونه روان دي. دا پروژه د ۵۱۰ مترو په اوږدوالي او ۱.۵ مترو په پلنوالي جوړېږي او د داخلي عوایدو له بودیجې څخه تمویلېږي.
مسؤولین وایي، دا ویاله به د اورښتونو پر مهال د ښار د اوبو د منظمې لېږد او د سېلابي ستونزو د کمښت لپاره مهمه ونډه ولري.


ننگرهار ۲۳

د فراه ښار د نرخونو د کنټرول او احتکار د مخنیوي کمېټې له لوري په ښار کې څارنه ترسره شوه، چې په ترڅ کې یې د ریګې زنځیر په سیمه کې هغه ژرنده وتړل شوه چې اوړه او غنم یې ګډول او د وطني اوړو په نوم یې پلورل. همدارنګه بله ژرنده د کم وزن له امله وتړل شوه. په څارنه کې شاوخوا ۴۳ کیلوګرامه د نېټې تېر خوراکي توکي هم راټول شول او له بازار څخه وایستل شول. کمېټه وایي، دا ډول نظارتونه به د بازار د ثبات او د خلکو د حقونو د خوندیتوب لپاره دوام ولري.

فراه ۲۴

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

د جلال‌اباد ښاروالۍ له لوري د داخلي عوایدو په مرسته د ۱۴.۶ میلیونو افغانیو په ارزښت د تفریحي پارکونو د جوړولو چارې په بېلابېلو ناحیو کې روانې دي. په دې پروژه کې د عبدالحق مېنه، د څلورمې ناحیې اړوند سیمه او د شانزده فامیلیو پارکونه شامل دي.
چارواکي وايي، په دې پارکونو کې د پلو لارو، سایه بانونو، د ناستې څوکۍ او د ماشومانو د لوبو ځایونه جوړېږي، چې د ښاري ښکلا او د خلکو د تفریح لپاره مهم ګام بلل کېږي.


ننګرهار
۲۵

د مرکزي‌بغلان ښاروال قاري لطف الله عبیده د نوي ښار د دوسرکي په سیمه کې د څپلیو جوړولو له یوې فابریکې لیدنه وکړه او د تولید بهیر، د کارګرو وضعیت او د محصولاتو کیفیت یې له نږدې وڅاره.
نوموړي د فابریکو ملاتړ د کورني اقتصاد د پیاوړتیا او د کارموندنې د زیاتوالي لپاره مهم وباله او د تولید د کیفیت او د کارګرو د خوندیتوب د لا ښه والي سپارښتنه یې وکړه. ښاروالۍ وايي، د خصوصي سکتور ملاتړ ته به دوام ورکړي.


بغلان
۲۶

د کونړ اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د درېیمې ناحیې په سالار باغ ساحه کې د عمومي سړک دواړو غاړو ته بند شوې لښتې پاک او د باران پاتې شونې ترې وایستل شول.
مسؤولین وايي، د تنظیف ټیمونه د ځانګړي پلان له مخې په ورځنۍ ډول د ښار کثافات راټولوي او ټاکلي ځای ته یې انتقالوي، څو د ښاري چاپېریال پاکوالی او اوبو جریان خوندي وساتل شي.


کونړ
۲۷

د کونړ اسعداباد ښاروال الحاج مولوي رحمت الله شهامت د تخنیکي او مسلکي ټیم په ملتیا د ښاري واټونو د تنویري پروژې د پلي کېدو په موخه د ښار له بېلابېلو برخو لیدنه وکړه.
ښاروال د پروژې د ښه تطبیق لپاره لازمي سپارښتنې وکړې او ټینګار یې وکړ چې دا پروژه به د ښاري چاپېریال د روښانتیا او د ښاریانو د هوساینې په برخه کې مهم رول ولوبوي.


کونړ
۲۸

د خوست ښاروالۍ اړوند څلورمې ناحیې مسؤولینو د ښاري نظم کمیسیون سره په همغږۍ د څېلواکۍ مېنار څخه تر نوي قوماندانۍ پورې د سړک دواړو غاړو ته د پلي‌لارو او لښتیو د خلاصون ګډ عملیات ترسره کړل.
چارواکي وايي، دا اقدام د ښاري نظم د ټینګښت، د پلي لارو د خوندیتوب او د ښاریانو د تګ راتګ د اسانتیا په موخه ترسره شوی، او هڅه کېږي چې په نورو سیمو کې هم ورته عملیات دوام ومومي.


خوست
۲۹

د کندهار ښاروالۍ د زرغونتیا امریت له لوري د ښار په بېلابېلو ناحیو کې د اېښودل شوو نیالګیو پالنې او روزنې چارې په منظم ډول روانې دي. دا فعالیتونه د ښار د ښکلا، د چاپېریال د ښه والي او د شنو ساحو د پراختیا په موخه ترسره کېږي.
د کندهار ښاروالۍ وايي، د نیالګیو د سالمې ودې لپاره پر وخت اوبه ورکول، ساتنه او نور اړین اقدامات ترسره کېږي. له ښاریانو هم غوښتنه شوې چې د زرغونتیا په ساتنه کې فعاله ونډه واخلي او د نیالګیو له زیان رسولو څخه ډډه وکړي، څو یو شین او پاک ښار ولرو.


کندهار
۳۰

د خوست ښاروالۍ اړوند د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو برخو کې د ورځې او شپې له خوا د کثافاتو راټولولو، انتقال او د سړکونو، لښتیو او کثافتدانیو د پاکولو پراخ خدماتي اجراات ترسره شول.
په همدې لړ کې د پارکونو او ګلدانونو د اصلاح، د کیمیاوي سرې استعمال، د چمن کښولو او د سړکونو د صفایي چارې هم ترسره شوې. دیادې هڅې د ښار د پاکوالي، ښایست او ښاري نظم د پیاوړتیا لپاره دوام لري.


خوست
۳۱

د خوست ښاروالۍ د مارکیټونو تنظیم عمومي مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو برخو کې د کیک او کلچو جوړونې کارخونو او بیکریو څخه نظارت ترسره شو.
په دې نظارت کې د صنفي جوازونو، حفظالصحې او صفایي وضعیت وڅېړل شو او اړوندو کسانو ته لازمي سپارښتنې ورکړل شوې. چارواکي وايي، دا ډول څارنې د ښاري نظم د ټینګښت او د صحي معیارونو د پلي کېدو لپاره دوام لري.


خوست
۳۲

د جلال‌اباد ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ رئیس مولوي سیف الرحمن شینواري په مشرۍ ناسته ترسره شوه چې پکې د ورځنیو چارو د چټکتیا، د عوایدو راټولولو، ښاري فرهنګ او د عامه پوهاوي موضوعات وڅېړل شول.
په ناسته کې ټینګار وشو چې د ښاري خدمتونو په بهیر کې چټکتیا رامنځته شي او په ناحیو کې د خلکو د ستونزو د حل لپاره غوښتنې لا پراخې شي.


خوست
۳۳

رغونه اونیزه

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو اداري لوی ریاست
د مطبوعاتو ریاست

# د ولایاتو او ولسوالیو ښاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

سپین‌بولدک ښاروالۍ کې د ځانګړې کمېټې ناسته د بېلابېلو ادارو د استازو په ګډون ترسره شوه.



کندهار ۳۴

په ناسته کې د رهنما معاملاتو د وکیلانو د ټاکلو او د هټیو د کرایو د کنټرول په اړه پرېکړې وشوې. د لسو حوزو له ډلې شپږ وکیلان ټاکل شوي او پاتې به په راتلونکي ناسته کې معرفي شي. همدارنګه پرېکړه وشوه چې تر بشپړېدو پورې به معیاري نرخونه نافذ وي او هر ډول سرغړونه به قانوني تعقیب شي.

د کونړ اسعداباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریت له لوري د ښار په بېلابېلو برخو کې ورځنۍ خدماتي اجراات ترسره کېږي.
په دې لړ کې د بند شوو لښتیو پاکول، د کثافاتو راټولول او انتقال، او د فرعي لارو او سړکونو صفایي دوام لري. هڅه کېږي چې له شته امکاناتو اعظمي استفاده وشي او ښاریانو ته پر وخت او اغېزمن خدمات وړاندې شي.



کونړ ۳۵

سپین‌بولدک ښاروالۍ د تنظیف مدیریت له لوري د منظم پلان له مخې د ښار په ټولو ګذرونو کې د پاکوالي چارې په دوامداره ډول روانې دي.
په دې لړ کې د ویالو پاکول، د کثافاتو راټولول او انتقال ترسره کېږي. ښاروالۍ له ښاریانو غوښتنه کړې چې د چاپېریال پاکوالي ته پاملرنه وکړي او د ناپاکو اوبو د مدیریت لپاره د خاګانو د کیندلو په برخه کې هم همکاري وکړي، څو ښار پاک او روغ پاتې شي.



کندهار ۳۶

نشستی به منظور تطبیق فرمان شماره ۲۱ امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی در باره دست‌فروشان با حضورداشت شاروال انجیل، مدیرحکومتداری، مدیرعواید این اداره، وکلای گذر و نمایندگان شوراهای گذر ساحات شهری و نمایندگان دست فروشان دایرگردید.



هرات ۳۷

## د جلال‌اباد ښار درنو اوسېدونکو!

د جلال‌اباد ښاروالۍ د ښاریانو ستونزو ته د رسېدنې او وړاندیزونو په موخه د شکایاتو ځانګړې شمېره فعاله کړې. که تاسو د جلال‌اباد ښاروالۍ اړوند په هره برخه کې له ستونزو سره مخ یاست مهرباني وکړئ له لاندې شمېرې سره اړیکه ونیسئ.

۰۷۷۰۴۴۹۲۴۳

ستاسو شکایتونه او وړاندیزونه زموږ لپاره ارزښت لري، راځئ په ګډه خپل ښار ښکلی، پاک او منظم وساتو.

ننګرهار ولایت

کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی شهر چاریکار به هدف حفاظت و پرورش گل‌ها و درختان شهر چاریکار، گلدان‌های سرک عمومی کابل- روان را هموارکاری کردند.



پروان ۳۸

کارکنان تنظیف و سرسبزی شاروالی میمنه کثافات داخل محبس و کوچه انستیتوت علوم صحی تورانی را پاک‌کاری کردند و جویچه‌های سرک کلینیک معروف به ثمر، آبروهای سرک روبه‌روی هوتل شاروالی در گذر افغان‌کوت و جویچه‌های کوچه مسجد جامع در گذر زرگرخانه را لوش‌کشی نمودند.

فاریاب ۳۹

به‌منظور حفظ نظافت و پاکی محیط زیست، جلوگیری از آلودگی هوا و فراهم‌سازی محیط زیست سالم برای شهروندان، زباله‌های جامد از محلات گذر ملا غلام مربوط ناحیه چهارم شهر بامیان توسط کارکنان بخش تنظیف شاروالی جمع‌آوری و به محل تعیین‌شده انتقال داده شد.



بامیان ۴۰

به‌منظور توسعه ساحات سبز و نهادینه‌سازی فرهنگ حفاظت از محیط زیست، ده‌ها اصله نهال مثمر به همکاری شبکه آوا در پارک فامیلی واقع در ناحیه اول شهر بامیان با حضور مسئوولین ریاست های شاروالی و محیط زیست بامیان غرس گردید.



بامیان ۴۱

به‌منظور جلوگیری از تخریب سرک و تسهیل در رفت وآمد شهروندان، سرک عمومی کوتل شهر واقع در ناحیه دوم شهر بامیان توسط ماشین‌آلات شاروالی گریدر و هموار گردید.



بامیان ۴۲

شاروالی ولسوالی خُلم به‌منظور تطبیق فرمان شماره ۲۱ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی، روند صنف‌بندی دست‌فروشان روی جاده را آغاز نمود. همچنان به هدف تنظیم و مدیریت بهتر فعالیت آنان، کارت‌های هویت نیز تنظیم و مطابق دیتابیس در حال توزیع است .

بلخ ۴۳

## مارکیت تجارتی توت‌باغ در شــهر تالقــان افتتاح به بهره برداری سپرده شد



تخار ۴۴

مارکیت تجارتــی توت‌باغ در شــهر تالقان با حضــور مولوی حمیدالله ارشــاد معاون والی تخار، مولوی عبدالغفور ســیرت شــاروال تالقان، نمایندگان اصنــاف، وکلای گذر و شماری از شهروندان این شهر افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد.

مولوی عبدالغفور ســیرت، شــاروال تالقان گفت که مارکیت تجارتی توت باغ شهر تالقان به هزینه بیش از ۲۴ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی در مدت دو سال تکمیل و اکنون در خدمت شهروندان قرار گرفته است.

شاروال تالقان افزود که شــاروالی یک اداره مردمی بوده و ارائه خدمات بهتر مســتلزم همکاری شــهروندان می‌باشد. شاروال تالقان همچنان از آغاز و تطبیق پروژه‌های دیگر از جمله مارکیت تجارتی مقابل مدرسه جامع، اعمار هوتل، ساخت جویچه در دو طرف سرک عمومی شــهر و افزود اسفالت سرک عمومی شهر تالقان از چهارراهی تیل‌فروشی سابقه الی چهارراهی شهیدی تا یک ماه دیگر تکمیل وبه بهره‌برداری سپرده خواهد شد.

مولوی حمیدالله ارشــاد معاون والی تخار افتتاح این مارکیت تجارتی را یک دست‌آورد مهم برای مردم دانست و گفت که امروز در فضای موجود، فرصت‌های مناســب برای بازسازی و توسعه کشور فراهم گردیده است.

معاون والی تخار تأکید کرد که ا.ا.ا همواره در تلاش تطبیق پروژه های زیربنایی بیشتر بود و مسئوولین متعهد به خدمت‌گذاری صادقانه به مردم می‌باشند.

شایان ذکر است که مارکیت تجارتی توت‌باغ در چهار طبقه در مســاحت ۱۲۰۰ متر مربع زمین با داشتن ۸۴ باب دکان و دو تالار بزرگ، طی مدت دو سال اعمار گردیده است.

## اعلان داوطلبی شاروالی تالقان

**شــاروالی تالقان پــروژه اعمار جویچه های دو کنار سرک عمومی شــهر تالقان را از پــل گاوبالی الی چهــار سرکه بنــدر ســابقه بدخشــان را از طریق داوطلبی به اعلان سپرده است. افراد و اشخاص که شــرکت ســاختمانی دارند و خواهــان اشتراک در پروســه داوطلبــی باز داخلی را داشــته باشــند، درخواســتی های خویش را سر از تاریخ نشر اعلان الی بــه مدت ۲۱ روز به شــاروالی تالقان تســلیم نمایند و شرطنامه را بدست بیاورند.**

تخار ولایت

شــاروالی ولســوالی نهرین در بخــش کانکریت‌ریزی جویچه‌های داخل شهر به‌منظور تنظیم آب‌های سطحی و بهبود وضعیت شهری، کثافات را به‌گونه دوامدار جمع آوری نمود. همچنان مطابق فرمان دست‌فروشان تنظیم و روند تنظیم آنــان را به‌منظور جلوگیــری از بی‌نظمی شهری ادامه می‌دهد.



بغلان ۴۵

## اعلان داوطلبی شاروالی تالقان

**شاروالی تالقان پروژه اعمار مسجد داخل شاروالی را از طریق داوطلبی به اعلان ســپرده است افراد و اشــخاص که شرکت ســاختمانی دارنــد و خواهان اشتراک در پروســه داوطلبی باز داخلی را داشــته باشند، درخواستی های خویش را سر از تاریخ نشر اعلان الــی به مــدت ۲۱ روز به شــاروالی تالقان تسلیم نمایند و شرطنامه را بدست بیاورند.**

تخار ولایت

جلسه شورای مشورتی ناحیه سوم شاروالی بامیان با اشتراک اعضای این شورا در دفتر ناحیه متذکره دایر گردید و به‌منظور ارتقای ظرفیت اعضای شورای مشورتی ناحیه مذکور، سلاید آموزشی تحت عنوان "اهمیت همکاری شهروندان با شاروالی" ارائه و تشریح گردید.

بامیان ۴۶

هیئت مشترک متشــکل از مقام ولایت کندز، ریاســت شهرسازی و مسکن و شاروالی کندز پروژه شهرک قهوه خانه کندز را مورد نظارت قرار دادند و پیشرفت فزیکی و کیفیت تخنیکی پــروژه کانکریت‌ریزی کوچه‌ها و اعمار آبروهــای شــهرک قهوه‌خانه را به‌گونه دقیق بررســی گردید.



کندز ۴۷

## جلسه عوایدی شاروالی کندز برگزار شد



کندز ۴۸

جلسه عوایدی شــاروالی کندز به ریاست قاری گل‌نبی انس، شــاروال کندز با حضور آمریــن، مدیران عمومــی نواحی و مسئوولان شعبات مرکزی برگزار گردید.

در این نشســت پیرامون چگونگی جمع‌آوری عواید، مدیریت بهتر منابع مالی و بهبود عرضه خدمات شــهری بحث و تبادل نظر و تصامیم لازم اتخاذ شد.

شــاروال کندز با تأکید بر اهمیت عواید، بیان داشت که ارائه خدمات شهری به‌گونه مستقیم وابسته به میزان عواید این نهاد بوده و نیاز اســت تا در جمع‌آوری معیــاری و قانونی عواید از منابع مختلف، تلاش‌های جدی و دوامدار صورت گیرد.

شــاروال کندز افزود که عواید شاروالی منبع اساسی تأمین و تــداوم خدمات شــهری اســت و در این زمینه مســئوولان و شــهروندان باید با احساس مسئوولیت بیشتر عمل نموده و از هرگونه غفلت و بی‌توجهی خودداری نمایند.

## غرفه‌جات و دست‌فروشــان شــهر کندز براساس فرمان امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تنظیم و جابجا می‌شوند



کندز ۴۹

نشست کمیسیون نظم و توسعه شهری شاروالی کندز با حضور نمایندگان ادارات ذیربط در تالار جلسات شاروالی برگزار گردید و پیرامون برنامه‌ها و پلان‌های مشخص جهت تنظیم اصناف و عملی‌سازی فرمان در خصوص انتقال و جابجایی دست‌فروشان بحث و تبادل نظر نمودند.

هــدف از این اقدام ایجاد نظم شــهری، کاهش بی‌نظمی‌ها و فراهم‌سازی محیط مناسب برای فعالیت‌های تجارتی عنوان شده اســت و قرار است تمام غرفه‌جات و دست‌فروشان بزودی با یک طــرح جدید و منظم در زمین ملکیت ســپین‌زر واقع در سرک محکمه جابجا شــوند. هدایت الله صافی مدیر تنظیم مارکیت های شاروالی کندز می‌گوید که با تطبیق این طرح سهولت‌های لازم برای کســبه‌کاران و شهروندان فراهم شده و چهره شهر نیز بهبود خواهد یافت.




# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

رغونه
اونیزه

## جلسه کمیسیون نظم و توسعه شهری ولایت فاریاب برگزار گردید

جلسه کمیسیون نظم و توسعه شهری ولایت فاریاب تحت ریاست مولوی نصرت‌الله فیضانی، معاون مقام ولایت فاریاب با حضور رؤســا و نمایندگان ادارات امارتی و سایر اعضای کمیســیون در تالار جلسات مقام ولایت تدویر یافت.

معاون مقام ولایت با اســتناد به ارشادات و هدایات دین مبین اسلام، بر حســن اجرای وظایف مطابق پالیسی ادارات مربوطه و در جهت بهبود وضعیت نظم عمومی، رفاه و آرامش ساکنان شهر تأکید نمود.

وی افزود: وظیفه، تنها یک مسئوولیت اداری نیست، بلکه یک مسئوولیت بزرگ ایمانی و انسانی است؛ از اینرو باید تلاش گردد تــا مکلفیت‌ها با رعایت اصل شــفافیت و ارائهٔ خدمات بهتر به شهروندان به‌گونه مؤثر ایفا گردد.

مدیر عمومی حکومتداری شــهری شاروالی میمنه فرمان شمارهٔ (۲۱) عالی‌قدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی را در مورد تنظیم دست‌فروشان به سمع اعضای جلسه رسانید. همچنان از سوی اعضای جلسه تأکید گردید تا فرمان متذکره هرچه عاجل بررسی و تطبیق گردد.

نمایندهٔ ریاســت شهرســازی و مسکن در خصوص اهمیت جلوگیــری جدی از تخلفات ســاختمانی، تســهیل روند صدور جواز اعمار ساختمان، در نظر گرفتن پارکینگ وسایط نقلیه در بلندمنزل‌هایی که تازه اعمار می‌گردنــد و نیز ضرورت ترتیب و بازنگری نقشه‌ها و پلان‌های شهری در محدوده شهر میمنه و ولسوالی‌ها، معلومات ارائه نمود.

۵۰ فاریاب

د هلمند ګرشک ښــاروالۍ له لوري د ۱۴۰۴ مالي کال د حســاب ورکولو غونډه ترسره شوه. په دې غونډه کې د دولتي مسؤولینو، د سیمې مخورو او ملمنو ګډون درلود. ښــاروال د تېر کال لاســته راوړنې او راتلونکي پلانونه وړاندې کړل او د خلکو د همکارۍ غوښتنه يې وکړه. مسؤولینو د ښــاروالۍ هڅې وســتایلې او د لا زیاتې همــکارۍ ډاډ يې ورکــړ. د غونډې په پــای کې ځینو مسؤولینو ته د خدمتونو د قدردانۍ ســتاینلیکونه هم ورکړل شول.



۵۱ کابل ولایت

د مهترلام ښــاروالۍ لــه لوري د ښــاري حکومتولۍ د طرزالعمل پر بنســټ ننګیالــی اکبري د دوهمې ناحیې اړوند د یووولسم ګــذر د وکیل په توګه وټاکل شــو. د پېژندنې په مراسمو کې مسؤولینو د نوموړي دندو لایحه تشریح کړه او هغه ژمنه وکړه چې د ســیمې اوسېدونکو ته به د قوانینو مطابق شپه او ورځ خدمت کوي.



۵۲ بغلان

د کندز ښــاروالۍ له لــوري د ۱۲ پوړیز ســوداګریز او استوګنیز مارکېټ د جوړولو چارې د نوآباد خواجه مشهد ســیمه کې روانې دي. د مسؤولینو په وینا د لومړي پوړ کار بشپړ شــوی او د دویم پوړ جوړونه په چټکۍ روانه ده، چې ټاکل شوې لومړی پړاو (۵ پوړونه) په راتلونکو ۹ میاشتو کې بشپړ شي. دغه پروژه د ۳۷ میلیونه افغانیو په لګښــت د ښــاري پراختیا او اقتصادي اسانتیاوو د پیاوړتیا په موخه عملي کېږي.



۵۳ aop.gov.af کندز

د کابل قره‌باغ ښــاروالۍ اداري غونډه د ښاروال مولوي معاذالله معاذ په مشرۍ ترسره شوه. په دې غونډه کې د قره‌باغ ښــاروالۍ اداري کارکوونکو ګــډون کړی و او د بېلابېلو مدیریتونو مسؤولینو خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړل.
ښاروال ګډونوالو ته لارښوونه وکړه چې په خپلو دندو کې اخلاص ولــري، د لایحې مطابق خپلــې وظیفې ترسره کړي او د ښاریانو کارونو ته پر وخت رسېدنه وکړي.



۵۴ کابل ولایت

لښکرګاه ښــار کې د خپلسرو ودانیو مخه ونیول شوه؛ د ښــاروالۍ د مارکېټونــو د تنظیم مدیریت لــه لوري په لومــړۍ او دیارلســمه ناحیو کــې د ناقانونــه ودانیزو فعالیتونو کار ودرول شو. مسؤولین وايي، اړوندو کسانو ته د رســمي جواز اخیستلو سپارښتنه شوې او د دا ډول سرغړونو پر وړاندې به کمپاینونه دوام ولري.




۵۵ aop.gov.af هلمند

سپین‌بولدک ولســوالۍ کې د CLTS پر تولنه والې بشپړ حفظ الصحه پروګرام د فعالیتونو څخه د څانګړې هیئت له لوري نظارت ترسره شو. په دې هیئت کې د ولسوالۍ مقام، ښاروالۍ، پوهنې، حج او اوقافو، فراختیایي ادارو استازي، علما او قومي مخور شامل وو.
یاد پروګرام د دولسم ګذر د منار چوک شاوخوا سیمو کې تطبیق شــوی، چې د ۵۱ جوماتونو لــه لارې خلکو ته د حفــظ الصحې عامه پوهاوی ورکړل شــوی دی. د اووه ورځنــي نظــارت پر مهال مســؤولینو د پروګرام له پرمختګونو خوښي وښووه او له خلکو يې وغوښتل چې د حفظ الصحې اصول عملي کړي څو د ناروغیو مخنیوی وشي.



۵۶ aop.gov.af کندهار

د کونړ اسعداباد ښاروالۍ وايي د ښاري سیمو د ښېرازۍ په موخه د چغان تاریخــي تپه کې د نیالګیو د کېنولو او ساتنې چارې روانې دي. د ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا مدیریــت کارکوونکي په ورځنــي ډول د نیالګیو پالنه او خړوبول کوي، څو یاده سیمه لا شنه او ښکلې شي او د ښار په ښکلا کې مهم رول ولوبوي.



۵۷ کونړ

د جلال‌اباد ښاروالۍ د تنظیف او زرغونتیا امریت له لوري د تنظیفـاتي خدمتونو په لړ کې د لومـړۍ ناحیې اړوند بېلابېلو سـاحو څخه د کثافاتو د انتقـال چارې ترسره کړې.
د تنظیف کارکوونکي له نهـه ګونو ناحیو څخه هره ورځ ۶۵۰ متره مکعب کثافات راټولوي او مناسـبو ځایونو ته يې انتقالوي.



ننګرهار ۵۸

پلخمري ښار کې د ژرندې نهر د پاکولو چارې رواني دي؛ د ښـاروالۍ کارکوونکي د ماشـینرۍ په وسیله کثافات راوبـاسي او د وچېدو وروسـته به يې لېـږد پیل شي.
مسـؤولین له ښـاریانو غواړي چې د نهرونو پاکوالي ته پاملرنه وکړي څو بیا د بندېدو مخه ونیول شي.



بغلان ۵۹

خوست ښاروال الحاج حافظ عبدالرشید عمري: د ښار د لا ابادۍ لپـاره منظم او ځانګړي پلانونه تر کار لاندې دي او هڅه روانه ده چې خوست ښار د بنسټیزو پروژو له لارې معیاري او منظم شي.
هغه د رویال ښـوونیز مرکز د پرانیستې په مراسمو کې وویـل، د پلو لارو خلاصون، د بـار وړونکو موټرو د تګ راتګ تنظیم او د ښـاري نظم ټینګښـت د ښاروالۍ له مهمو لومړیتوبونو څخه دي.
ښاروال زیاته کړه، د ښاریانو د شکایتونو د اورېدو لپاره د ښـاروالۍ دروازې تل پرانیستې دي او د خدمتونو د ښه والي هڅې دوام لري.



خوست ۶۰

## جلسه کمیســیون نظم و توسعه شــهری شاروالی سرپل ولایت سرپل برگزار شد



سرپل ۶۱

جلسه کمیسیون نظم و توسعه شهری شاروالی سرپُل به ریاست ملا خال‌محمد حقانـی، معاون مقام ولایــت سرپل با حضور اعضای کمیسیون نظم و توسعه شهری در دفتر معاونیت مقام ولایت دایر گردید.

